(۲) 5/1968

ددې ګڼې مضامین

دلمر پلوشی د پشتی ۲ مخ
ملی هنر د کلتور په هینداره کی... ۱ مخ
کندهار ۳ «
د افغانستان سیندونه ۹ «
مطالعه او تفکر ۱۲ «
د انسان د توان... ۱۳ «
د ادب وږمې ۱۴ «
ښځه څوک ده؟ ۲۰ «
د خندا پلوشی ۲۱ «
جیوردانو برونو ۲۳ «
علت او معلول ۲۵ «
په آینده کی به.. ۲۷ «
هغه وړانګی چی.. ۲۸ «
د کمال تصویر د پشتی ۴ مخ

د کندهار د شهیدانو د څلور لاری په جنوبی برخه کی د میوند رستوران ښکلی ودانی

۱۳۴۷
لوړ
(۲)

دلمر پلوشې

دسمندر اوڅپو له منځ څخه دسهار درڼا یوه څپه راغله، دنیا ئې ولېدله او لګیا شوه ؛ ای توری تیارې؛ ځه او اوس ماته ځای پرېږده .

بیا د اوبو پرغاړه جهازونو ته ودرېده .
او په وینا شوه جهازونو شپه تیره شوه ځی لاره موونیسی او په تګ شروع وکړی .

مځکی ته په نارو شوه (ویښه شه پاڅېږه چی ورځ راغله).
صحرا ته ولاړه او هلته داسی لګیا شوه جو په والو ورونه مو وتړی، او روان شی چی بیا به مو دلمر تلو مزله ته نه پرېږدی؛ ځنګل ته ئې ځان ورساوه او وئې ویل:

هلی پور ته شه پاڼی ورپوه او دګهېځ هر کلی وکړه .
کلیو او بانډو ته په وینا سر شوه ؛ اې مالدارانو، مالونه مو ورشوګانو او پټیو ته بوځی چی تیاره ولاړه او درڼا لمن هر ځای وغوړېده ؛ وښو او بوټو ته ئې په غوږ کی وویل :

پاڅېږی، دلمر د راختو هر کلی وکړی .
دمرغیو په خواکی غلی تېر شوه او ورته وویل :

والوزی او وچغېږی .
مګر آه افسوس، چی دمړو پرهدیره راغله .
نو په یوه غمجن آواز ئې وویل :

ستاسو وخت لا نه دی راغلی پرېوځی، دخپلو ویښېدو او پورته کېدو تر وخته پوری وګوری .
ستاسو دخوب نېټه لا نه ده پوره شوی .

LIBRARY OF CONGRESS
ISLAMABAD OFFICE
18 MAR 2005
6 CONTINUATION 6

بناغلی م - [ع]

ملی هنر د کلتور په هینداره کی

هر هنر چی کلتوری بنیان ولری هغه ملی هنر بلل کیږی

څرنګه چی دلته د ملی هنر او کلتور په ارتباط کی یوه مقایسوی تحلیلی څېړنه کوو، نو دامقاله په دوو برخو اویوې نتیجی ته ووېشو او ددې کارګټه به نو دا وی چی د موضوع آفاقی او انفسی حدود به نه راڅخه ور کیږی.

په لومړی سر کی به پر هنر وږغیږو او بیا به کلتور په لنډ ډول تشریح کړو او په پای کی به د هنر او کلتور هغه ارتباط معلوم کړو چی ملی هنر ځینی پیدا کیږی.

هنر څه شی دی ؟

داچی هنر څه شی دی، تعریفات ئې دومره زیات شویدی چی که ټوله یوځای شی نو باور لرم چی خورا پنډ کتاب به ځنی جوړ شی.

ددغو تعریفاتو له جملی څخه یو دالاندی تعریف دی چی د نوی مطالعی په رڼا کی یو پوهاند کړیدی هغه وایی چی:

«هنر د انسانی ذهن یوه تعبیری وسیله ده، هر کله چی یو هنرمند د پرځان مسلطو جریاناتو څخه پخپل ذهن کی د کوم حالت احساس وکړی او بیا هغه ته د خپل نفسی انفعال پوښ ورواغوندی، دې ته نو هنر وایی».

په عمومی ډول هنرونه هغه چی د ښکلو (زیبا) هنرونو په تعریف کی داخل سویدی څلور دی چی د نقاشی یا رسامی هنر، د مجسمی جوړولو هنر ادبیات (لټریچر) او موسیقی (موزیك) څخه عبارت دی.

ددې هنرونو په جمله کی نو معماری هم ځنی کسان هنر بولی خو که ئې موږ هم داخل وبولو نو د نقاشی او مجسمه سازی له ترکیب څخه راوتلی هنر به وی.

په هر صورت نن د مصری فرعونیانو اهرامونه، د چینائی - مریانو په لاسو جوړسوی لوی دیوال، د یونانی شاعر [هومیر] ویاړنی (حاسی)، د میکل انژلو او لوناردو اوینچی نقاشی د برنی نی او میکل انژلو مجسمی د شکسپیر او مولیر ډرامی او کومیډی، د موزارت او شوپن موسیقی کمپوزونه، دلامارتین او پوشکین اشعار، د چارلس دیکنز او ماکسیم ګورکی ناولونه ټوله هنر بلل کیږی.

کلتور څه شی دی؟

د اصلی لغت په لحاظ کلتور یوه انګرېزی کلمه ده چی ریښه ئې لاتین ته رسیږی او په انګرېزی کی په (کلچر) تلفظ کیږی.

د کلتور یا کلچر تعریف د نیو کالج سټندرډ ډکشنری په ۲۸۷ مخکی داسی راغلی دی:

«کلتور یا کلچر پخپل پراخ تعریف کی د یوځای د خلکو په ماضی او حال کی د امیالو اعمالو لاسی هنرونو کرهڼی مذهب، اقتصاد روایاتو، ژبو او افسانو ته ویل کیږی».

کلتور پېژندنه نن ځان ته پوهنه ده او هغه خلک چی د یوې ټولنی په باره کی اساسی مطالعات کوی نو دوی د هغو کلتور پلټی او پردغه لار نو ورته معلومیدای شی چی ټولنه د تکامل په کوم پړاو کی ده.

که کلتور زموږ د انسانی ژوند د علمی او ذهنی جریاناتو یوه هینداره وبولو نو د هنر نندارې هم پدغه هینداره کی خورا ښی کولای سو.

ملی هنر څه شی دی؟

موږ هنر او کلتور دواړه پورته تشریح کړل، اوس نو دې پوښتنې ته جواب ویونکی یو، چې ملی هنر څه شی دی؟

هغه هنر چې کلتوری ریښه ولری یعنی د کلتور په هیڅداره کې دهغه کړه وړه نااشنا او نابلد او بالاخره بیګانه نه وی هغه ته ملی هنر ویل کیږی.

دمثال په ډول موږ پر موسیقی ددې موضوع تحلیل حواله کوو، موږ یعنی افغانی ټولنه لکه چې کلتور لرو نوهنر هم لرو او په هنر کې موسیقی هم لرو، اودغه موسیقی مو عوامو د زړګونو کالو راپدې خوا راپاللی ده، څرنګه چې ددوی پر کلتوری بنیاد تکیه لری نو د عوامی ذوق پوره نمایندګی هم کوی خو که زموږ ملی ننني هنرمند د یوبل ځای دهنر په تقلید کوښښ وکړی چې ددې ځای اصلی آهنګونه د بیګانه کمپوزونو تابع وګرزوی نوداکار ترهغه وخته پوری نه کیږی ترڅو د کلتور ټوله مشخصات ورته تبدیل نسی او دا خبره نو که دناممکناتو په جمله کې ونه بولو تطبیق یی فوق العاده مشکل دی که داسی وسی نو په نتیجه کې بـه د موسیقی هنر صرف په یوه محدود اود اصلی ذوقه څخه عاری کوچنی اقلیت کی رواج وی او نور نو ترشاد ولس لوی بهیر به نه یواځی په هغه نه پوهیږی بلکی نفرت به ځینی کوی اوددې علت هم دادی چې داهنر کلتوری ریښه نه لری او نو ځکه ملی نه بلل کیږی.

په دوهم مثال کې به په ادبی هنر کې پر داستان وږغیږو هغه داستانونه چې دیوه ولس د کلتوری مناسباتو معرف وی هغه دفوکلور په جمله کې راځی اوفوکلور خو نو په هر ځای کې دملی هنر ونو نخبه مشخصات جوړوی.

مثلا زموږ د پښتو شفاهی داستانونه او کیسی زموږ خالص او بی غشه فوکلور بلل کیدای شی ځکه په هغو کې زموږ د خلکو د ژوندانه هغسی تصویرونه ځای سویدی چې زموږ د کلتور مشخص اجزاء پکښې راټول سویدی نوځکه زموږ عوامو ته بیګانـه نه دی اود زمـانو په دوران کې ئې علاقـه ورسره ساتلی ده.

او پدې لحاظ چې کلتوری بنیاد لری نو موږ ئې ملی هنر هم بللای شو.

اوس نو که موږ نوی لیکوال او هنرمند هر څونه زور ولګوی چې د یو بل کلتور د تسلط پـه چوکاټ کې کوم داستان چې هنری او ادبی صبغه هـم ولری منځ ته راوړی هغه به د عوامو دلوی اکثریت له خوا دیو بیګانه متاع په حیث قبول سی خو خپل به یی ونه بولی ځکه په هغه کې به دملی هنر ښکلا موجوده نه وی او علاقه مندی به هم جلب نکړی.

ددې لپاره چې دغلط فهمی ازاله سوی وی نو داخبر باید یاده شی چې موږ دملی هنر نخبه اثار په ولس کې پیدا کـولای شو او څرنګه چې هغه پر کلتوری بنیاد ولاړ دی، نو دلته زموږ لایق لیکوال او هنرمند ته دا حدود معلومیدای شی چې خپل فوکلور ته باید په څه ډول نـوی رنګ ورکړی ترڅو له هغه څخه دملی هنر معرف یو اثر جوړ شی.

همداډول کله چې په نوی پیرایه یو هنری اثر منځ ته راباسی هغه باید دټاکلی ټولنی پر کلتوری بنیاد ودروی او هر څونه چې د ټولنی په کلتور کې یو هنرمند پوه او واردوی. په هغه سویه دده اثر دټولنی دخلکو په ذهنی تکامل کې اغیزه پر ایباسی او د «هنر او اجتماعی ژوند» د اثر دلیکوال لدغه خبری سره ملی هنر دټولنی په انکشاف کې تاثیر کوی چې وایی: «ټولنه دهنرمند لپاره نده جوړه سوی بلکی هنرمند د ټولنی لپاره جوړیږی، دا دهنر وظیفه ده چې د انسانی استدراک په انکشاف کې مرسته وکړی ترڅو اجتماعی سیستم کمال ته ورسیږی».

د محمدگل [نوری] ژباړه

کندهار

جغرافیایی اوضاع :

په افغانستان کی تر کابل وروسته لوی ښار کندهار دی چی د لرغونی اراکوزیا، یا اراچوسیه، یا د عربو د جغرافیه لیکونکو اومؤرخینو دلیك په قرار دالرخج، یاالرخذ مرکز دی.

دگرینویچ څخه دشمال غربی په (۳۱) درجو او (۳۷) دقیقو کی، او په شرقی طول کی په (٦٥) درجو او (۴۳) دقیقو کی واقع دی، اود دریاب د سطح څخه ۳۴٦۲ فټه لوړ دی.

کندهار، د زرغون او حاصلخیزو مځکو په منځ کی د ترنك د وادی تر پای واقع او له رود څخه په همدغه نامه سره د وړو، وړو غرو په واسطه سره جلاسوی دی، همدغه غرونه ددې وادی کښته برخه پردوو برخو وپشلی او سیخ دغرو سره تر شل میله پوری اوږده سو پده دغه غرونه د تورکافی غرونه بولی او د مځکی د سطح څخه یوزرفټه لوړدی.

کندهار، د درو خواؤ څخه لوړو، لوړو وچوغرو احاطه کړیدی.

د کندهار سیمه خورا ډېره فوق العاده حاصلخیزه او تروتازه زرغونه مځکه ده او خورا ډېر د ډول، ډول انګورو او نورو میوو باغونه پکښی سته، ددې آبادی او مړې مځکی د سهېل او لمر لوېدیځی خوا ته ډېری ودانی سته، لېکن شمال لوېدیځه خوائې وچه او د غرو ددوو لړو په واسطه چی د مځکی د سطح څخه زرفټه لوړ دی تړلی ده، ددې سلسلی په شمال لوېدیځه خواکی یو د اوبو مخزن دارغنداو اود ترنك دعلاقو تر منځ جوړسوی او په پای کی د هزاره ؤ پرلو یوغرو تمامیږی، همدا غرونه دلوېدیځ سهېل خوا ته تللی او په رېنګ پوری مښلی، دلوېدیځ د شمال څخه د کابل سړك شروع کیږی دا یوه لرغونی او تاریخی مشهوره دهندوستان لار ده چی د خواجه عمران یا (خوجك) د سلسلی تر پای تېر ېږی چی یوه بغل ته ئې په لږ فاصله سره «پښین» دی.

د خواجه عمران کوتل قریباً ۲۳۰۰ فټه لوړ دی منګر دلته ئې غر سوری کړی چی د اورگاډی لین د چمن څخه ترکوټی پوری مښلوی اود کندهار څخه و هندوستان ته څو نوری لاری هم په بلوڅستان کی تېری سوی دی.

کندهار، د کابل څخه ۳۱۵ میله، اود هرات څخه د لوېدیځ شمال په خواکی دی ۳۷۰ میله فاصله لری اود چمن څخه چی بهخی نژدې سرحد دی ۲۸۰ میله فاصله لری، د کندهار اوسنی ښار په مستطیل ډول سره دی چی پسور او اوږده ئې دوه زره ګزه په ۲٦۰۰ ګزه کی دی چی شاوخوا محیط ئې قریبا څلور میله دی.

دغه ښار څلور بازارونه لری چی په مرکز کی یو دبله په یوقائمه زاویه سره قطع کیږی چی پخوا پردغه مرکز یوه لویه تاریخی ګونبته ولاړه وه.

د کندهار بازارونه ډېر اوږده او پراخه جوړ سوی او د کانونه ئې یولین دی.

د کندهار د ښار ودانۍ د ګنبتو په ډول جوړی سوی هغه لویه مهمه ودانۍ چې د معمارۍ د ذوق نمایندګی کوی د احمد شاه بابا د زیارت ګونبته ده چې د دې ښکلی ګونبتی پر شاوخوا لوی او کوچنی منارې راګرزېدلی او پدغه ګونبته کی د خطو او نقاشیو ښی، ښی نمونی سته.

او څلور دروازې لری چې د کابل دروازه، د ښکارپور دروازه، او د عیدګاه دروازه ئې بولی، دغه ښار دوې نوری کوچنۍ دروازې هم لری چې د لوېدیځ په نیمه برخه کی دی، چې یوه د توپخانی دروازه، بله د برو دروازه ده. د عیدګاه و دروازې ته د ارګ تر څنګ لاره تېره سوی ده چې دغه یو چارکونجه محوطه ده چې هره خوا ئې ۲۶۰ ګزه اوږدوالی لری.

د کندهار و اوسنی ښار ته نژدې قریبا څلور میله لیری د زاړه ښار خرابی دی چې دغه زوړ ښار په ۱۷۲۸ میلادی کال کی د نادر افشار له خوا تاړاك او خراب سو.

دغره پر سر باندی لکه لاندنۍ خرابی یوه خرابه د ېوال غوندی خرابی سته.

د ښار د لوېدیځ جنوب وخوا ته دغره د ختیځ شمال لوری ته چهل زینه ده چې په لویه اهاکی ډبره کی جوړی سوی او پای ئې پر یوه ډبرین دالان باندی تمام شویدی پدې دالان کی درې برجسته خطونه کیندل سوی چې د تاریخ لږ بیان او د بابړ د امپراطوری د سلطنت د وسعت شرح ده.

کندهار د افغانستان لوی تجارتی مرکز دی چې په بازارو کی ئې د نورو هیوادو تجارتی مالونه پلورل کیږی.

کندهاریان په تجارت کی ښه پوهه او استعداد لری. د کندهار عمده او لوی واردات: ټوکران، څرمنی، قند، فلزات رنګ دی؛ غالی، برك، پوستین وریښم او نور له دننه ولایاتو څخه لکه: کابل، هرات او غزنی واردوی.

صادرات ئې: وړۍ، پنبه، مېوه وریښم، انګوزه او نور.. دی.

نن ورځ د کندهار لوی تجارت وړۍ او مېوه ده. د کندهار د میوې فابریکی ډول، ډول کانسروه او شیرینۍ تهیه کوی، داخل او خارج ته ئې صادروی.

که څه هم د کندهار علاقی د سهېل او لوېدیځه خوا ډېره تروتازه او حاصلخېزه ده، منګر د ارغنداو خوا ئې داسی زړه وړونکی منطقه ده چې ډېری ښی روانی او به او د ښو خوږو مېوو ونی، او د انګورو باغونه پکښی سته چې اغلبا جوړه نلری.

د کندهار د شاوخوا مځکی د هغو ویالو څخه اوبیږی چې نژدې د بابا ولی صاحب سره د ارغنداو د رود څخه کښلی سویدی او د کارېزو په اوبو هم ډېره مځکی اوبیږی.

په کندهار کی غنم اوربشی، جواری، باغلی شوتل، شپشتی، تنباکو او پالېزونه ډېر کرل کیږی او ترکاری او سبزی هم ډېر پکښی کیږی. کندهار د خوږو مېوو د نقطه نظره د افغانستان هغه غوره منل سوی منطقه ګڼله کیږی.

د کندهار نوم:

د کندهار نوم په قدیمو

تاریخوکی وجود نه لری
داسی څرګندیږی چی یو

نوی نوم دی چی پدې
وروستیو وختوکی میدان
ته راوتلی دی .

دمخه تر اسلام په تاریخی
اسنادوکی دغه نوم بالکل
تری تم او په تیاره کی دی
په اسلامی عصر کی یو ډېر

شمېر جغرافیه لیکونکی او
مؤرخین سته چی دیوه ښار
یا یوې قصبی یا کلی نوم
پدې منطقه کی پدې نامه
کوم ځای ندی یادکړی .

د عربو ځینی جغرافیه
لیکونکی لکه : بلاذری
مسعودی، یعقوبی ، دا نوم
یادوی ، لیکن ددوی مطلب

ددې نامه څخه هغه ښاردی
چی د کابل په مصب کی دی
د سیستان او حدودالعالم-
من المشرق الی المغرب په

تاریخ کی همدغسی دی
اصطخری او ځینی نور د
الرخج او الرخذ څخه ددې
منطقی عمده ښارونه ښجوائی

او تکین آباد لیکی همدغه
ولایت چی نن ورځ د کندهار
پنامه یادیږی او عین همدغه

نوم چی پر مرکزئی اینبوول
سویدی آراکوزیه نومیدی.
هرودوتس هغه مراوائی

او نور یونانیان هغه آراخز بللی
دی .

«ولسن» په خپل کتاب (آریانا-
انتیکوای) کی د کندهار په نسبت

وایی: چی پدې ښاروکی چی
«پوتولمی» ئې پدې ولایت یادوی
یوالکذاندریه دی چی عموماً هغه
موجوده کندهار تصور کوی

داچی همدغه نومونی ښار د
مقدونیی پرلار سته، شك پکښی
نسته یوه ډله لیکونکی دا عقیده
لری چی د کندهار نوم دالکذاندریه

څخه اخیست سویدی، پدې معنا
چی اسکندر په ۳۲۹ ق م کال کی
چی و اراکوزیه ته ورسید، نو د
خپل عادت سره سم ئې یوه نظامی کلا

دخپلو یونانی لښکرو د پاره جوړه
کړه، نو دوی همدغه کلا کندهار
ګڼلی دی اووایی چی اسکندریه
کندریه، کندار، کندهار شویدی

او خپل سند هغه محلی ملی
افسانی بولی چی وایی کندهار
سکندر ذوالقرنین ودان کړیدی
منګر غالب ګمان دغسی نه دی چی

د کندهار نوم دی د ګندهارا سره
مستقیم ارتباط ولری، او مستر بیلو
هم پدغه عقیده کی یو تفصیل لری
ځکه چی ۵۲۰م کال چی «چینی-

زائر سونګ یون» و ګندهاره ته
راغی دده د یادابنتو په استناد
پدغه عصر کی ایفتالتیانو پر
ګندهاره یرغل راوړی نو د

ګندهاره یوې ډلی وګړو
دیفتلی دلاسه دبوداد کچکول
دساتنی په غرض و آراکپوزی

ته راغلل چی غالباً د کندهار
د قدیمی ښار پرځای ؤ، د
کندهار نوم ئې هم له ځانه
سره راوړ او پرهغه مځکه

چی دوی ودان شوه کښېنود
او په باختری مځکو کی دا
مسئله ډېر مثالونه لری، نو
همدغه ګندهارا نوم ؤ چی

کندهار شو، منګر څرنګه
چی شهرت ئې نه درلود نو د
عربو د جغرافیه لیکونکو د
نظر څخه پټ پاته شو، ځکه

چی پدغه مهال کی د ښجوائی
د منطقی مهم ښار او تکین-
آباد ؤ .

هو، پدې کی شك نسته
چی کندهار، د کلی او قصبی
او ښار په نسبت کوچنی او
کم اهمیتی ئې درلوده او

فردوسی هم دغه ته اشاره
کوی وایی چی د زابلستان
پاچا کورنګ شا کندهاری
مینځه درلوده.

دی وایی:
بدش قندهار بت قند لب
که ماه از رخش خیره
گشتی به شب
منوچهر دامغانی هم
وایی :

«یا قندلب نگاری کز قندهار باشد»

زابلستان عبارت له غزنی او شاوخوا منطقو څخه ئې

دی غالباً تر کندهار پوری د کندهار یا کندهار کوچنی ښار کی چی دده په مملکت کی ئې په ښایست او ښکلیتوب

شهرت درلود، نو ویلای سو چی د کندهار نوم ډېر تازه نوم دی.

د کندهار تاریخ:

تر دې ځایه چی مو د قندهار د نامه په شاوخوا کی څېړنه وکړه لاهم پوره نده، نو ځکه دلته ئې پردغه

ځای پر پېږدو، اوس به نو کندهار تر خپله وسه پوری د تاریخ په نقطه کی وپلټو چی د حوادثو او پېښو سپلابو

ددې ښار پر سر نوشت څه تاثیر کړیدی.

که څه هم زما مطلب د کندهار د تاریخ د تعقیب او څېړنی څخه دادی چی تاریخ ئې مفصل ولیکو، منګر هر ځکه

چی دغه ټوله مفصل بیان پدې محدود پاڼو کی نه ځائیږی

نو ځکه په مجمل ډول او سر سر کی پر تېر پېرو اود اصلی مقصد تکمیل او پوره څېړنه

وآینده ته پر پېږدو.

د کندهار ولایت چی لرغونی نوم ئې هرخوا تپش دی چی هرودوتس هغه هراواتی، او نور ویونانیانو اراخزیا ځینی

جوړ کړیدی، یو دشوره ډک تاریخ لری، هغه بېخی لرغونی تاریخ ئې تر اوسه پوری لا په مجهولو پردو کی پټ پاته دی، دقدیمی

آریانا د سلطنت تر سقوط او د پېشدادیانو او بلخی کیانیانو د سلسلی تر انقراض وروسته په مدیا کی د (ماد) دولت، او په فارس

کی د (هخامنشی) دولت تاسیس شو.

فارسی «کوروش کبیر» اته کاله د آریانا د ولایاتو د تسخیر د پاره کوښښ اوهاند وکړ منګر څه لاس ته ورنغله بی نتیجی پاته

شو، په پای کی د افغانستان د لوېدیځو قبایلو سره په جنګ کی مړ سو، منګر تر ده وروسته آریانا ولایات هسی په نامه د هخامنشی

په دولت پوری وتړل شول، او په هر ځای کی محلی حکمدارانو په مستقل ډول سره ژوند کاوه، په

هغه مهال کی چی د «کوروش» زوی «کمبوجه» د مصر په حوادثو او جنګو کی بوخت سو، نو یو

«بردیا» نومی سړی میدان ته راووت او دده پر ضد ئې شورښ وکړ، ټوله سرداران ئې خپل

طرفداره کړه، د «کوروش-کبیر» د زوی په نامه (بردیا) د فارس پاچا سو، پدې مهال کی د فارس د دولت اوضاع

خرابه سوی وه، په زیاته بیا د آریانا مفتوحه ولایاتو خبل ټوله ارتباط د فارس د مرکز څخه پرې او قطع کړی وو.

(بردیا) د (هرخواتپش) یعنی اراکوزیه د مطیع او نیولو د پاره لښکر ولېږی منګر د هغو محلی حکمران

چی ډېر زورور او قوی وو د دوی ته ئې ماتی ورکړه (داریوش کبیر) (بردیا) ئې وواژه او پر آریانا ئې د

د لښکر ویرغل وروړ. د سیند تر رود پوری ئې شاوخوا مځکی لاس ته راوستی چی پدې کی اراکوزیه هم شامله

وه، منګر هر کله چی د هخامنشی دولت اقتدار ورځ په ورځ کمېدی په زیاته بیا د دریم داریوش په وخت

کی نو پدې مهال کی آریانا په کامل ډول مستقله سوله د آریانا ئی دولت حکمرانانو چی د هخامنشی دولت مخ

پر زوال لیدی، نو د خپل کار د چاری په لټولو کی شول. د باختر حکمران (بسوس) له یوې خوا، او

بارسانتس د رانکیانا او اراکوزیه والی د بلی خوا د سلطنت په چرت کی شول هغه مهال چی د (کوکاملا)

جنګ د هخامنشی د پاچا د ماتی سبب وګرزیدی، نو بسوس د آریانا د پاچهی خول په باختر کی پر سر

کښېښود . بارسانتس چی جدی همخیاله د بسوس ؤ د رانکیانا او اراکوزیا و لوری ته راغی چی د خپل

دولت سر ښته وکی، منګردا ټوله پلانونه د مقدونی سکندر د لښکر کشی په اثر ناکامه شوله، پدغه مهال کی د اراکوزیا او د رانکیانا ولایات

یو د بله په اتفاق د یوه حکمران تابع وه چی بارسانتس نومېدی دغه سړی د خپل

وطن د خلاصولو په باره کی ډېرهاند وکی او یوازنی آرزوئی داوه چی د فارسی هخامنشی د دولت سره رابطه

قطع سی له همدې کبله په ۳۳۰ ق م کال کی د ریم داریوش د بلخ د حکمران

بسوس په اتفاق د هخامنشی پاچا له منځه یووړ .

د سکندر او د ده قوی لښکر و د نابېری حملی پر وپاکند ډېر بدا نعکاسات میدان ته راوستلی وه ، نو پدغه بحرانی مهال کی ئې د رانکیانا او اراکوزیه حکمران لاس ؤ پښه کړی بارسانتس چی د سکندر د زور او دده په لاس د فارس د دولت د

سقوط څخه خبر ؤ او پر هرات باندی د سکندر د حملی او یرغل او دهغه ځای پر اهالیو دده د وحشیانه رفتار څخه پوه ؤ په

ځان کی ئې دونه بېچ ونه لیدی چی دده مخه ونیسی ، نو ځکه د غرو او درو دلارو څخه وهندته ولاړ، د د رانکیانا او اراکوزیا

ولایات ئې بی سر پرسته پرېښوول دادواړه سیمی د سکندر بی خنډه په لاس ورغلی .

د نن ورځی معلومات خو تراوسه ناقص دی، نو دا نسوای ویلای چی په هغه مهال کی چی

سکندر د اراکوزیا سیمی ته ننوتی آیا د مقاومت او مقابلی سره مخامخ سو که یه ؟

په هر حال هر کله چی سکندر د اراکوزیه سیمی ته ننوت نو یو په بل پسی ئې ښارونه ونیول، هغه خورامهم ښارونه چی د سکندر پېښو

لیکونکی بطلیموس ثبت کړیدی دادی: آزولا، یا اوزولا، فوکلیس اراکوتس .

و اسکندریه: کنګهم آزولا په لوړ هلمند کی ګذر، یا ګذارستان ، او فوکلیس د یمتریاس ګنی .

یو بل مؤرخ ابسیدور څونورښارونه هم په ګډوی لکه : بیوت ، فرساګ ،

کورو شاد ، دمتریاس، او الکذاندروپولس چی د ولایت پایتخت او د اراکوتس یعنی ارغنداو د رود پرغاړه

ؤ، او بیوت عبارت له بست څخه بولی .

د تاریخ د مطالعی څخه څرګندیږی چی تر دغه زیات چی و مو ویل سکندر نور وګړی هم د اراکوتی په

نامه تر کوتو او خپل تابع ئې کړل، دغه وګړی یعنی اراکوتیان هغه وګړی وه چی د کندهار او د ارغنداو د

رود په شاوخوا کی میشت وه .

یونانی مؤرخین چی دغه ښارونه یادوی، د دغو څخه موږ په صحیح ډول نسوای ویلای چی کوم ښار

د لرغونی کندهار پر ځای ودان ؤ، منګردونه قدر ویلای

سو چی د اراکوتس ښار چی په اراکوتیانو پوری اړه

درلوده او د اراکوتس د رود پرغاړه ؤ ممکن چی د کندهار قدیم ښار وی (هغه هم

پدې شرط او پدې صورت چې دارغنداو رود لومړی مسیر پرځای فرض کړو) نو داغالباً پنجوائی دی.

په هرحال قدیم کندهار که اراکوتس یا پنجوائی وی که نه وی یقیناً وکندهار ته نژدې د ارغنداو د رود پر غاړه ښار موجود ؤ.

لکه چې د سکندر عادت ؤ چې د خپلو یونانی لښکرو او عسکرو دپاره ئې نظامی کلاوی جوړولی ، اوهغه به

ئې داسکندریې یا اراکهوزی په نامه بللی ، یونانی مؤرخینو سم له خپله عادته سره دغه کلابنار بلله همدغه

اشتباه ددې سبب سوه چې تر نن ورځی پوری اروپائی او شرقی مؤرخین پرخطا تللی او وایی چې: د کندهار

د بنسټ ایښوونکی او بانی اسکندر دی.

د ۱۳۲۹ ق م کال په دوبی ددې ښار د پوالونه په پوره کافی ډول لوړوه چې سکندر (ممنن) ددې ښار والی مقرر

کړ، او یو شمېر عسکر ئې هلته میشت کړل او د کابل وخواته وخوځېدی. د سکندر تر مرګ وروسته دده د پراخ دولت پر تقسیم اوویش باندی

دده د عسکری سردارانو په مابین کې هرج ومرج جوړ شو او ددوی هریوه د سکندر پرځای د ناستی دعوه کوله په ختیځو سیمو کې سیلوکس خپل اعتبار ټینګ کی

او کارئې ښه مخ ته ولاړ، په آریانا کې محلی حکمرانو داوخت غنیمت وګاڼه پدې چرت کې شول چې یونانی نفوذ له منځه یوسی ، هغه یونانیان چې په افغانستان کې

پاته وه، هغه هم ددې محیط تر اثر لاندی پدې فکر کې سول چې خپل روابط دبابل د مرکز څخه قطع کی، د بومی حکمرانانو د

جملی څخه چې پدې مهال کې ئې د آریانا پر ولایاتو حکمرانی کوله پدې ډول دی:

سیبرتیوس د اراکوزی او ګدروشیا (د کندهار ولایت او بلوچستان) ستاساندروس د آریا او درانګیانا، ستازانور د باختر

او سغدیانی حاکم ؤ. داټوله بدې پسی شول چې دلاسه تللی اقتدار او قوت بیرته لاس ته راولی ، او تریوې اندازې پوری موفق شول

پدې ترڅ کې په هند کې د موریا دولت تاسیس شو، او دغه سلطنت د بنګال څخه تر اندس پوری پراخ شو . سلیوکس ودې کار ته کتل

همدستی چې مناسبه موقع ئې د موندل وشرق ته راغی منګر ماتی ئې وخوړل مجبوره سو چې د پارو-

پانیزادی، آریا، او اراکوزیه او ګدروشیا ولایات و چندراګپتا ته پریږدی تر دغه وروسته څوعمر اراکوزی او د آریانا ځینی ولایات د موریا د دولت په نامه مطیع سول.

پدې ترڅ کې د باختر حکمران دیودوتس د بابل د یونانی پاچا دریم (انتی-اوکس) سره رابطه قطع

کړل ۲۵۶ ق م؛ دوهم دیودوتس په ۲۳۵ ق م کال کې د سلطنت ته ورسېدی ؛ دریم انتی اوکس چې د پارتیانو

سره د جګړې په حال کې ؤ سوله ئې وکړه، او په ۲۰۸ ق م کال کې ئې پر باختر یرغل وکړ پدې مهال کې په باختر کې

یوتیدیموس، دوهم دیودوتس وواژه او د باختر پاچا سوی ؤ . دریم انتی اوکس باختر محاصره کې ، دغه

محاصره تر ۲۰۶ ق م کال پوری اوږده سول او په پای کې د دواړو خواؤ په منځ کې سوله وسول او دریم انتی-

اوکس د کابل د لاری و اراکوزیه ته راغلی او سیستان ئې طی کړ د بابل خواته ولاړ . (پاته لری)

عبدالصمد [فدا] ژباړه

دافغانستان سیندونه

«۲»

د لوره سیند

دغه رود چی دافغانستان دجنوبی سیمو دسیندوله جملی څخه دی اوددغه هیواد دجنوب ختیځ په څنډه کی پروت اود پښین له ناوې څخه تېرسویدی دمځکو داوبه کولو لپاره په کوم درد نه خوری ځکه چی ددغه سیند داوبو سطحه لوړه اودڅرمه مځکو څخه کښته ده .

ددغه رود اوږدوالی تقریباً دوه میله دی او د هامون (کوره) په منځ کی چی دافغانانو اوبلوڅستان سرحد دی تېر سوی او ور توئیږی .

خاشرود

دتور غره د جنوب پلو دلوړځایو څخه دغه سیند راغلی او پردغه لار په حرکت کی دی دهمدغه رود منبع او سرچینه ۹۰ میله نژدې د هرات وجنوب اوشرقی سیمی ته واقع دی او دلارام ته قریب د فراه ولایت ته داخلیږی . له ۱۵۰ میلو مسافې د طی کولو څخه وروسته د ګرمسېل سیمی ته ورځی لدغه سیند څخه ډېرځله دمځکو داوبه کولو لپاره استفاده کیږی او دده نوم د (دهی) له نوم څخه مشتق اوجوړ سویدی .

داهم باید ووایم چی په دوبی کی لدغه رود څخه تېرېدل اسان دی، مګر د طغیان په موسم کی لدغه سیند څخه تېرېدل ګران او سخت کار دی، ولی چی د اوبو فشار پدغه موقع کی ډېر تېز وی ددغه رود بروالی په فراه کی ۱۰۸ متره اوژور تیائې یو متر دی .

خاشرود وهلمند او هامون ته نارسیده دچخانسور په اطرافو کی په څوښاخو وېشل کیږی او په عمومی توګه وهلمند اوهامون ته توئیږی، اوږدوالی ئې تقریباً ۴۰۰ کېلومتر دی .

فراه رود

دغه رود دتورغره له لمنو څخه راځی چی اوږدوالی ئې له ۵۰۰ مترو څخه زیات دی . دغه رود دڅو رودخانو څخه لکه غور او داسی نور چی له بېلو، بېلو درو څخه تشکیل سویدی د فراه رود د شمال اولوېدیځ خواؤ څخه وهلمند اوهامون ته توئیږی .

د هاروت رود

دهرات دجنوب اولوېدیځ خواؤ دغرو څخه راغلی دی اوپه همدغه لارو باندی جریان لری . دغه سیند دهرات دسبزوار څخه تېریږی او بیا نودادرسکن ناوې خړوبه کوی وروسته نو بیا پدغه نامه سره یاد اومشهور کیږی کوم وخت چی دده بل مرستیال اومعاون چی د انار درې له غرو څخه راتوئیږی هم پدغه ځای کی ګډیږی او د هاروت رود نوم ځان ته پیدا کوی .

د هامون د شمال او لوېدیځ خواؤ څخه وهلمند ته توئیږی .

د هاروت سیند هغه د فیضه ډک رود دی چی له ده څخه یو شمېر ویالی کش سویدی چی خپله سبزوار دهغه شاوخواتر انار درې

پوری له دغو ویالو داوبو څخه استفاده کوی .

ددغه سیند اوږدوالی ۴۳۱ کیلومتر دی.

هریرود

ددغه سیند رودخانه ۵۳۰ میله ده چی ددایزنگی له غروڅخه د ۱۰۰۵۰ فټه په اندازه لوړ اوبندی ددغه

وروستی برخه د (کوه بابا) له غره څخه تشکیلوی اوهم له هغه ځای څخه سرچشمه اخلی ددې رودخانی

منابع او کومکیان ئی خورا ډیردی. لدغه جملی څخه دوې رودخانی چی د هریرود موجودیت له هغه

څخه صورت نیسی هغه عبارت دسرجنگل او تنگل آب دولی دسپین غره دخج ګوبو سره تړلی دی.

چی (چهل برج) د هغه نومونه دی. دغه سیند خپل

حرکت ته په مستقیم ډول ادامه ورکوی چی دوهم منبع ئی

دچل آب له درې څخه پورته کیږی. ددغه رودځای فاصله یوسل میله دلو پدیځ لورته

په مساوی ډول جریان لری او ددولت یارد کلی په شاوخوا کی چی ۸۱۱۷ فټه لوړ دی

پدغه ځای کی یوځای کیږی اود هریرود رودخانه په وجود راوړی بیا لدغه ځای څخه تېر له هغو مرستیالانو چی دشهرك او تولك څخه راځی او هلته نو ئیږی اود

انجیل د رود په شاوخوا کی د کرخ سیند وهغه ته ورتو ئیږی. ددغی رودخانی عرض له ۳۳ څخه بیا تر ۴۳ متره پوری دی ولی د

واوری د ویلېدو په وخت کی د سړی تېر پدل لدغه رود څخه مشکل او ګران کار دی لدې امله چی ددغه سیند اوبه جګیږی مګر داوبو

دلږېدو په وخت له یو نیم متر څخه تېری نه کوی.

هریرود دښار له جنوب څخه څلور میله تېریږی او په زنده جان کی چی د هرات په ۳۰ میلی کی واقع دی وشمال اولو پدیځ لورته

متوجه کیږی بیا نو له کهسان غره تېریږی د ایران په سرحد کی چی په (تومان اغا) سره مشهوره دی ورسره تماس نیسی د هریرود سیند

لدغه ځای څخه مخ دشمال وخواته کړیدی اودذوالفقار تر کوتل پوری چی نژدې ۶۰ میله فاصله دافغانستان او ایران دهیوادو دسرحدو

په منځ کی ده، دغه رودد خپل جریان په وروستی برخه دتجن درود په نامه یادیږی او بیا ئی دخوارزم ریګستان جزب کوی.

هریرود پخوا ډېر اوږد او دجیحون له رود سره موبتوړ ولی کوم وخت چی ځینی ځانګی داوبو لګولو په مقصد ځینی جلاسوی نو په کښته

برخه کی ددغه سیند اوبه لږیږی دغه ددوهمی پېړی پوری وجود درلودی.

هریرود نژدې ۳۰۰ میله له ختیځ څخه د لو پدیځ لور ته جریان لری اوهغه اکثره ځایونه دهرات له حاصل-

ورکونکو اوتازه ناوې له میانځ څخه تېریږی.

د نزهة القلوب دلیکنی له مخی چی وایی لدغه سیند څخه نیمه وړ لی کش سویدی چی نومونه ئی دادی:

آذربائیجان، جوی نو، لنګرکان، کراغ، غوسمان، کنګ، لقصر، انجیر (انجیل) یادشت، د هرات دسیمی د

نامداری موجبه وګرزیده چی د هرات ناوه د منځنی اسیا دباغونو اوآسیاکور ګڼلی شو.

د هریرود فیض او برکت نه یوازی داچی د هرات

په ناوه پوری منحصر دی حتی په شمالی برخو کی د

تجن او سرخس مځکی دغه رازخړوبه کوی.

د همدغه رود د معاونین او مرستیالان د ایران په خاوره کی عبارت له دغو رودونو څخه دی:

لومړی د «کشف رود» چی سرچینه ئې د «ارترك» و سرچشمی ته نژدې د هزار مسجد په غرو کی ده چی د چناران او رادګان له اوبو کولو څخه د مشهد له شمال څخه تېر او د «خاتون» په پله کی و هریرود ته شېوه کیږی.

دوهم. د «جام سیند» دی چی د «بلوك» د (جام) له اوبه کېدو څخه پس و هریرود ته توئیږی.

دریم. د «باخزر» رود دی چی د دغی ناحیی له شمال څخه تېرسوی په (تومان-اغا) کی توئیږی.

مرغاب سیند

د دغه رود اوږدوالی ۳۸۵ میله دی چی سرچشمه ئې د تېر بند او فیروز د غرو له ښاخو څخه ده او په منظم ډول د لوېدیځ لورته د هغی لویی ناوې چی د غرو د واړه سلسلی سره جلا او بېلوی جریان لری هغه وخت چی د ده د معاونینو زیاتی او به په ګډیږی. لوېدیځ او شمالی طرفونه اختیاروی او له (بالا-مرغاب) څخه تېر او د (مروچاق) په برخه کی نور معاونین ورسره اضافه کیږی، بیا د (کرشان سیند) چی د (مأورا) د سرحد کرښه ده د فیروز د غره له ښاخو څخه چشمه اخلی او بیا په ده پوری تړل کیږی.

په (آق تپه) کی د (کشك سیند) چی د کوه سیاه او (بوك) له غرو څخه راځی او د (تیپه) له سیمی څخه تېریږی بیا نو بیرته پریاد سوی سیند باندی ګډیږی.

په مروچاق کی د مرغاب سیند نژدې ۱۵ میله ده چی د افغانستان او روسیی د سرحد نقطه ده پنج ده او آق تیپه چی د رود خانی کیڼ خوا د شوروی اتحاد په دننه خاوره کی واقع ده او له آق تیپی څخه د مرغاب سیند د شمال لورته په حرکت کی دی او و (مرو) ته ځی وروسته نو بیا د (قراقوم) په رېګستان کی جزب کیږی. دغه رود خانه د رېګستان د حاصلخېزو مځکو څخه تېریږی په پسرلی کی ئې اوبه ډېری دی ولی د کرهڼی او زراعت په وخت کی مخ په کمېدو وی د دغه سیند حرکت او جریان تېز دی او ژورتیا ئې یوشی ده.

آب سفید سیند

دغه سیند د (تېر بند) له غره څخه پردوو ښاخو وېشل کیږی او په سرپل کی د ده بل معاون او مرستیال چی د سنګ چارك څخه راځی او د هغه سره تړل کیږی وروسته نو په آب سفید سره مشهور کیږی له شبرغان څخه تېریږی او په دښته کی جزب شی.

د دغه سیند اوږدوالی تقریباً ۲۰۰ کېلومتر دی.

قیصار رود

دغه یو وړو کی سیند دی چی د میمنی له شاوخوا څخه تېرسوی او له دولت-آباد څخه تېریږی او په دښت کی جزب کیږی، اوږدوالی ئې تقریباً ۲۰۰ کېلومتر دی.

آمو سیند

دغه رود چی زموږ د ګران هیوا د افغانستان له نامتو او سترو سیندو څخه د (آمو سیند) دی چی تقریباً ۴۰۰ میله د ننني افغانستان د شمالی سرحد خوا کی د شوروی اتحاد سره تشکیل شویدی.

د ده لومړنی منابع (قلات) د کوچنی پامیر ارتفاع ده چی د ژمی په

موسم کی یوه لویه ذخیره دواورو اویخده.

د آمو سیند یو لرغونی اوتاریخی حیثیت لری اویو شمېر پخوانی نومونه لری چی د هغه یونانی نومونه دادی :

(اوکس) دی چی له (وخشو) څخه جوړ سویدی اود (وهرود) په څنګ کی اوپه چینی ژبه کی (ورهو)

یاکوی شو، ورته ویل کیږی د نوموړی سیند د رودخانی اوبدوالی له یوزرمیله څخه زیات دی . وروسته ددغی

مسافی له طی کولو څخه د (آرال) و شپلی ته تو ئیږی اودغه سیند د جریان په شروع کی له دوو رودخانو څخه

دواخان اوپامیر څخه تشکیل سویدی چی لومړی ئې د واخان له درې څخه تېرېږی اودوهم ئې د وکتوریا یعنی

لوی پامیر د شپلی له شاوخوا څخه راغلی دی اود واخان شمالی سرحد له هغه ځای تشکیل سویدی، وختی چی

دواړه رودونه یو د بله سره ګډ شول (آب پنجه) کیږی

چی حرکت ئې وجنوب او لوېدیځ لورته دی، او د اشکاشم په برخه کی شمالی

طرف اختیاروی او د خپل نامنظمه خط په تعقیب سره د (غندو) او (آقسو) د سیندو د شمالی ښاخونو طرف ته

او بیله دماوراالنهر د افغانی سرحد خط کی وهغه ته ورتو ئیږی اود (کوکچه) سیند دهیواد په دننه کی د آمو

د سیند سره تړل او منځلول کیږی. د کوم ځای څخه چی ۳۷ درجی د بروالی کرښه

قطع کوی نود کندوز رودخانه په هغه کی تو ئیږی.

پدغه وخت کی د (واکش) اوورسته بیا ځینی رودونه په هغه سره تړل کیږی.

اود (ترمز) په څنګ کی د (سرخان) سیند د هغه سره یو ځای او ضمیمه کیږی.

له ترمز څخه بیا تر (نم) پوری نوری اوبه او بله مهمه رودخانه و هغه ته نه ورلویږی اود آمو سیند خپله

غټه او لویه بڼه ځان ته نیسی . (پای)

مطالعه او تفکر

• څنګه چی ډېره زیاته مطالعه فکر، ووسعت او ودې ته نه پرېږدی ډېر لیکل او ډېر لوستل هم د حقایقو معرفت مخه نیسی .

د دنیا ډېره لویه کتابخانه چی بی نظمه او بی ترتیبه وی هغه ارزښت نه لری چی یوه کوچنی منظمه کتابخانه ئې لری .

همدغه راز ډېر زیاته پوهه چی په ذهن او دماغ کی بنه هضم دهغو لږو معلوماتو نه لږ قیمت لری چی په جزئیاتو کی ئې ډېر غور اودقت نه وی سوی.

په حقایقو باندی سړی هغه وخت پوهېدلای شی چی د علمیت په قانون پوه شی او په جزئیاتو کی مطالعه ولری.

څنګه چی انسان مطالعی ته ضرورت لری تفکر ته ئې هم لری .

مطالعه او تفکر، د انسان په ذهن کی دوه متضاد تاثیرونه لری چی که یو زیاد شی هغه بل کمیږی.

مطالعه، د سړی ذهن دهغو افکارو اوعقاید له تاثیر لاندی راولی چی ممکنه ده د انسان د ذاتی احتیاجاتو سره مخالفت ولری .

آزاد تفکر یعنی دهغه طبیعی سیر اوحرکت تعقیب چی محیط او ضروری مسائل ئې د انسان په ذهن کی پیدا کوی د مطالعی

په شان څه خاص شی په ذهن کی نه موجودوی بلکی د فکر کولو

۱۳ مخ دی و کتل شی

د [نجیب] ترجمه

د انسان د توان مقایسه له ماشین سره

آدم سمیت چی د اقتصاد د پلار په نامه مشهور دی په خپل هغه کتاب چی د «ملتونو پانګه» نومیږی او په لندن کی چاپ سویدی، او په همدغه کتاب کی ئې د اقتصاد بنسټ د ساینس په ډول طرح کړی دی، ویلی دی چی د یوه قام شته منی لومړی هغه د قام پر مهارت او بیا د هغه په نفوسو باندی اړه لری وروسته له هغه چی څه اقتصادی متخصصین راغلل هغو ګردو دده د نظریاتو له دغی برخی څخه انکار وکړ او پردې خبره باندی ټینګ ودرېدل چی په اقتصادی انکشاف کی د سړیو پرځای پیسی او ماشینونه ډېر مهم رول لری دوی د دغی ادعا د ثبوت د پاره د امثال راوړی چی ماشینونه د کار وخت ډېر کموی او لدې کبله د کار قیمت هم ټیټیږی.

همدا شان دوی دې ته هم اشاره کړی او ویلی دی چی د ماشین په مرسته د هغه کار چی پخوا به سړی په ورځ کی کاوه، اوس ئې په یوه او حتی په نیم ګړی کی اجرا کوی.

همدارنګه د اقتصاد پوهانو پردې خبره باندی هم زور اچولی دی چی د اقتصاد په پرمختګ کی سپما هم ډېره ستره برخه لری.

هو، که دا رښتیا وی چی ماشینونه فقط په هغه وخت کی جوړېدای شی چی پانګه په لاس کی وی او د پانګی د غوځولو بنسټ فقط سپما ده مګر یوازی سپما که څه هم هر څومره زیاته هم وی نه څه شی جوړولای شی او نه څه شی پرمخ بېولای شی او دا فقط انسانان دی چی د نوو او ګټورو افکارو په مرسته سپما د یو تولیداتی شته منی په شکل ګرځوی سره ددې هم کوم نوی ماشینونه چی د ساینس د پوهانو او انجنیرانو د بکرو نظریاتو په اساس جوړ سویدی که چیری د نفوسو د اکثریت او کارګری طبقی له خوا د هغه د مهارت او بلدیت د نشتوالی له حیثه چی ورته په کار دی په کار وانه چول شی نو د محدودو کسانو د کار د آثارو په شان به باقی پاته شی او نور څه استفاده نه ځینی کیږی د اوسنی اېډستریالیزم (صنعتی - توب) تر پرمختګ د مخه د

پاته په ۱۹ مخ کی

مطالعه او ....

تو منه ذهن ته سپاری، همدغه سبب دی چی ډېر زیاته مطالعه د شخصی فکر د روزنی مخه نیسی، او سړی څه قدر سطحی او ناپوه کوی.

علما او پوهان هم هغه کسان دی چی ډېر کتابونه ئې لوستی دی، مګر نوابغ او د فکر خاوندان چی د انسانی مدنیت لارښوونکی دی او د بشریت قافله د ترقی خوا ته بیائی، هغه کسان دی چی د جهان په کتاب کی ئې غور کړیدی او د نورو په خبرو کی ئې خپل فکر نه دی بایللی.

[شوپنهاور]



ښاغلی [لایق]

د ګلو بستر

بیا می ساقی ولید دخیالونو په خوبونو کښی
بیا د جنت حوری راته ناڅی په جامونو کښی

زه د سکندر د آئینی څه ګټا نه یمه
زه هر څه لیدی شمه دښکلو په مخونو کښی

غرونه که لالو نه شی طلاشی او زماشی بیا
نه ارزی پدې چی ځوانی خاوری کم غمونو کښی

زه که می پرست نه یم نو څه به شم او څه به یم.
څه پسی به ګرزم دمړو خاورو په رګونو کښی؟

زانګم دسپوږمی په تنا بو کښی له جانان سره
خیال چی راسره شی دنشی په جنتونو کښی

کله چی دیار په سودا پر پوزمه ویده شمه
اوړم په ګلونو کی را اوړم په ګلونو کښی

بناغلی [الفت]

پکښې ښکاری د مجنون د زړه داغونه

پسر لیه ! بیا دی را وړه سره ګلونه
بیا به جګ کړی د بلبلو فریادونه
سرې لمبې دی ارغوان باندی کړی بلی
د ګل پاڼو کی دی نغښتی سره اورونه
شنی لوخړی پورته کیږی له چناره
په شنو ځانګو مرغان ځکه کړی شورونه
یا د غرو رغو لمنو اور اخیستی
یا صحرا کړه د فرهاد وینو ګلګونه

د لیلی له خاورو سره لاله شوه پورته
پکښې ښکاری د مجنون د زړه داغونه
د بلبلو په نظر ګلوته ګوره!
لیلی نه ده چا لیدلی بی مجنونه
ستر ګی پورته کړه له خوبه راپیدار شه
ویده نه لری څه برخه له ژوندونه
سوز و ساز د شوق وذوق ته دی راپولی
چی سحر باغ کی بلبل کړی اذانونه

عبادت کوی که فکر که مخمور دی؟
چی غنچو زوړند نیولی دی سرونه
بیا د لمر زړه کښې پیدا زیات حرارت شه
په جوش راغله بیا د وریځو ډک خمونه

د فلك له شنی مینا صهبا ځیږی
خلق وائی چی اوریږی بارانونه
د سیندونو مستی ورځ په ورځ زیاتیږی
شپه او ورځ شور و غوغا لری موجونه

د باغ کور بیا ښادی خوشحالی راغله
ونو واچول په غاړه امپلونه
په رنګینو ښو جامو کښې ګډا کاندی
له مستیه شکوی یو د بل هارونه

هیڅ پروا ئې په چا نشته ورته ګوری
په اتڼ کښې ښکلو ځانګی ښاخونه
د بهار د نسیم څه رنګه تاثیر دی
ونې راغلی په نغمو کوی رقصونه

دا موسم د ښکلیتوب که د مستی دی؟
له بلبل که له ګل وکړم تپوسونه ؟
د بهار ارمغان ګل که بلبل دی ؟
نغمه ښه ده که د ګلو دیدنونه ؟

پس له څو قرنو د غرو د بلبلانو
پښتنو ته راځی هسې اوازونه
چې پخوا به پسرلی پدې هیواد کښې
لونل غرونو کښې ښایسته ښکلی لالونه

وریځې نوری وږمې نوری هر څه نورو
په بل رازو، د اسمان هلته دورونه
سیمرغان او رستمان پکښې میشت وو
د مندیش غره کښې و بل راز تاثیرونه

د اسمان د رڼو ستورو ځل چې وینم
را یاد یږی د پښتون شهاب ځلونه

د مرمرو د رخامو خول ماڼیو
د لمر سترګی بر پښولی تر پرونه
لمر وبل، سپوږمۍ وه بله ستوری نورو
ته هم بل شان اپسدلی ای پښتونه!

توره شپه وه ټول خلك په خوابه خوب ویده وه ؛ یوازی زه وم چې ستا په یاد دخوب پر بستر ناآرامه او ناقراره یوې خوا او بلې خواته اوښتم را اوښتم.

هسك ای لوړ آسمان کې سپوږمۍ خپل د

ښاغلی [فدا]

ستا په یاد

خوار لسمی شپې، شپه سبا کوله ما ته ستا ښکلی مخ، غټې سترګې تورزلفان پـه تصور کې تله او راتلله ؛ ویل به می چې زما آشنا خو تردغه سپوږمۍ چې اوس په آسمان کې لیدل کیږی هم ښکلی او ښایسته دی ؛ کله او کوم وخت به دهغه په خوږو خبرو او شیرین وصلت مشرف شم.

ستا په یاد می ټوله شپه سهار کړه، خو ستا په وصل پا ته به ۱۸ مخ کی

ښاغلی [ربښتین]

په خندا غوټی خوره شوه

باغ ته ولاړه

د پسرلی په راتلو خوښ شوه آسمانونه
دا په جار چی رعدو وهل پولونه
د برېښنا توره را ووته له ټپکی
پر غلیم ژمی ئې وکړه تور برېښونه

رعد پول ورته وهی د برېښنا مخکی
ستورو واچول آسمان کښی اتڼونه
د ښایست له ملکه بیا قافلی راغلی
ور سره دی ښکلی ښکلی سوغاتونه

د جمال پادشاه وتلی په دوره دی
ور سره هم د سرو ګلو لښکرونه
په خندا غوټی خوره شوه باغ ته ولاړه
په شان شا کوی د پېغلو ملیزونه

ژړو ګلو چپی راوړی په راغونو
په سندرو ځی بېدیا ته ښکلی جونه
ابشار ځان راغورځوی پسی له لوړو
کوز چی ګوری د سروګلو قطارونه

زاڼی بیا قطار قطار راغلی له کښته
زړه ئې غواړی د کابل مېوې باغونه
شنی کوتری دی راغلی نن قاصدی
دی راوړی ئې شاعر له پیغامونه

نورانی سهر وختی د رب ثنا کا
په هزار ژبو ئې کاندی صفتونه
د نشاط عمل راوړی توتکو دی
لږ څه پوه انسان تر اخلی غبرتونه

کارنامه دا دقدرت ده نورڅه نه ده
داچی ښکلی په ګاڼو دی ایوادونه

ګل له حسن ئې ورکړی عشق بلبل له
د بلبل ناروکښی ایښی دی سوزونه
د نړۍ ښلل همه واړه لـه ده دی
له قدرته دی په ژویو دا لورونه

هریو شی امیدلری په دې موسم کښی
د آرزو غوټی چی وسپړی مخونه
د ګلانو هیله څه ده تـازګی ده
سیل د ګلـو د بلبلـو ارمـانـونه

زما زړه کښی ځای نیولی دی آرزو دی
چی نصیب د پښتنو شی عظمتونه
هم ئې ژبه علم پوهه شی اوچته
هم آباد ئې شی دا ښکلی ایوادونه

دا آرزو کړم شپه او ورځ قادره خدایه
ستا دلبار ته می نیولی دی لاسونه
دا جواب می په غوږونو کښی ورو واورېد
چی خبر ئې کړم له دې نوی مضمونه

د هرچا هیلی پوره به شی یو ځلی
په ورو ورو به ورژیږی ارمانونه
خوهله که څوك بېدار لکه بلبل وی
په غفلت او خوب به ښکل نه کړی ګلونه

ستا په ....

د ۱۶ مخ پاته

بریالی نه شوم .

دومـره به ووایم چی ژر دی که خدای کول ستا سره به یوځای، او د بېلتون دا ترخی ورځی ؤ شپی به تېری شی .

م

خلو ریځه

لکه شمع که ځان وسېزې په اور ته
نو به هله کړی رڼا مینه او کور ته
که د باد په شان دی ځان کړ سرګردانه
نو به وچی کړی خولی له مخ دور ورته

[الفت]

د انسان د توان

مقایسه ....

د ۱۳ مخ پاته

ادبیاتو لپاره ډېر چانس موجود ؤ چې خپل قدرت ته ئې انکشاف ورکړی وای په خاص ډول د معیشت د تامینولو په لار کې په هغه وخت کې ډېر ستزګران وه چې په ډېر مشقت سره ئې له مځکې خپل د معیشت حاصلولو

دپاره جدوجهد کاوه په هغه وخت کې ساینس د وړ کتوب په مرحله کې ؤ او ماشینونه چا نه پېژندله

ددغې کشالې په مقابل کې به دا د تعجب وړ نه وی چې وویل شی چې د (ادم سمیت) پیروان تر انسانانو وپانګې

ته په ډېر اهمیت سره قایل دی .

(توماسما توس) د فرانسوی انقلاب غوښتونکو دغه دکتورین (سول) په موفقانه ډول رد کړوایی

انسان کولای شی چې بشپړه ټولنه جوړه کړی هغه داثابته کړه چې د نړۍ د نفوسو شمېر تل مخ پر زیاتوالی دی دا زیاتوالی

نسبت و خوراکی موادو ته ډېر چابك وی چې په نتیجه کې دغه مسئله دیوې بې موازنګی سبب کیږی او دغه موازنه به د جنګونو

قحطی او آسمانی آفتونو د طلفانو په واسطه ساتل کیږی .

په تېرو ۱۵۰ کالو کې د ادم سمیت د دغې روښانه نظریې د تعدیلولو دپاره چې وایی په اقتصادی انکشاف کې د انسان

توان ډېره اغیزه لری ډېری خبری پیښې سویدی، د اقتصاد دفن د زده کونکو فکر نسبت و انسانی عواملو ته د تکنالوژی او پیسود

عواملو وخواته وګرځېدی کوم علوم چې د هغه په فوکس کې د انسان مطالعه کول هم داخل دی د بنی آدم د نفوذ او قدرت د

انکشاف په باب کې ئې دوې مهمې نتیجې په لاس راوړی دی له یوې د وظیفې د اجرا کولو معیار په واضح ډول د فطرت، وراثت او د

وګړو د استعداد و محدودیت ته اشاره کوی. وایی: چې په هر قام او ملت کې داسې کسان ډېر لږ پیدا کیږی چې په فطری استعداد سره

دی په علومو او فنونو کې برجسته کسان یعنی چې په هر نسل کې دی فوق العاده وی ډېر محدود وی دا یوه فتوا ده چې و بحث کولو ته حاجت نه لری .

دوهمه موضوع چې پدې

مورد کې ښه تحلیل سویده هغه داده چې د انسان فوق العاده استعداد د کوم نسلی اجتماعی او اقتصادی طبقې

مخصوص او محفوظ مال نه دی بلکې دغه شی پر ټول

نفوس باندی وېشل سویدی نو که دغه استعداد انکشاف

وکړی او په ثمر ورسیږی یا داچې مجهول او بې ثمره پاته شی ؟

په لومړی مرحله کې په هغو چانسونو پوری اړه

لری چې د کوچنیوالی یا د زلمیتوب په وخت کې د

استعداد لرونکو او بخښل شوو وګړو لپاره موجودیږی

نو په پای کې باید وویل شی چې انسانی قوه زموږ

محدوده او قیمتی منبع ده زموږ اقتصادی پرمخ

تګ، زموږ په هغه استعداد پوری اړه لری چې د

انسان له قدرت څخه پوره استفاده کوی .

د پېغله صدیقی [لودینه] ټولونه

ښځه څوك ده؟

ښځی ستاسو لباس دی او تاسو د ښځو لباس یاست.

ښځه د کور ډېوه ده ښځی په حکمت کور ودانوی.

ښکلی ښځی ستر ګو ته خوشحالی ورکوی او نېکه ښځه د زړه جوهر او لویه خزانه ده.

ښځه د ژوند ملګری او په غم کی شریکه ده.

ښځه، دانانیت خزانه او د سړی جوړولو ډومبی کارخانه ده؛ یوازی د ښځی وجود دی چی د پاك عشق او رښتنی مینی په حقیقت پوهیږی.

ښځه، خدای پاك د مینی د پاره پیدا کړی ده.

ای ښځی! ته د پاکی او تقوی د پاره پیدا سوی یی.

ای ښځی! غواړم چی څه راسره دی، هغه هم ترتا قربان کړم؛ او چی څه لرم هغه هم درته جار کړم.

په کوم کور کی چی مېرمن نسته په هغه کور کی خوشحالی نسته.

ښځه، بهترینه او وروستی آسمانی تحفه ده.

ښځه، د خلقت د رازونو خزانه ده.

ښځه، د ګلاب د پاڼی څخه نازکه ده.

خو د فولادو څخه مضبوطه هم ده.

ښځه د خیال په دنیا کی

ای ښځی! ستا د لطیف جنس خیال تل ستا د خاوند د فکر په فضا کی اوسی او ستا آرزولری.

شاعران ستا د لطیف او ښکلی اندام د لطف او نوازش انتظار لری ستا د پاره د طلائی سپنسیو جاله ګنلی، او هنرمندان بیا تل ستا پر وجود د سپوږمی د اشعی څخه پرده غوړوی.

دریا بونه خپلی قیمتی ډبری ستا د زیور د پاره؛ او باغوان خپل ښکلی ګلان ستا د زینت د پاره تهیه کوی.

ټول کوښښ کوی چی ستا ځوانی او ستا آرزو روښانه او ترسره کړی؛ ستا د خصیت ته ټول احترام لری.

نو ته هم ای مېرمنی!

د دې ټولو نوازشو او احترام په مقابل کی ځان مه سپموه؛ د اولاد په روزنه او صحیحه تربیه کی زیار وباسه او د طبیعت د مظاهرو څخه چی ستا په شاوخوا کی دی خوند واخله او خپله درنه وظیفه څرنګه چی ستا د شان سره بنائی سرته ورسوه خو په پوره ایمان داری دی خدمت کړی؛ او د تل د پاره تاته د جامعی د مقیدی عضوی خطاب وشی او ستا په حقیقی ښکلا او ګرانښت زیاتوب راشی.

د خندا !!!

پلوش

د محمد ناصر [نصرت]
ژباړه او ټولونه

ښکلی مجسمه

یو یهودی مجسمه جوړونکی د «مرمر» له ډبری څخه د یوې اتلس کلنۍ لڅی پڅی نجلۍ داسی ښکلی او زړه وړونکی مجسمه جوړه کړه چی ډېره خوشحاله او شهوت انګېزه وه، او په محضی لیدو سره ئې د هر سړی زړه ؤړ، او خولی به ئې او به ورته کولی؛ دا مجسمه چی یو فرانسوی ولیده وئې ویل:

- که ئې ساه درلودلای د عشق بازۍ او نڅا د پاره بېساری وه.

«یونانی» ئې پر سر لاس ور تېر کړی ویی ویل: که هلك وای ډېر به ښه ؤ.

«المانی» چی ورته وکتل وئې ویل: ښکلی ده مګر افسوس چی (آریا) نژاده نده.

«انګلیسی» په خورا ځیر ورته کتلی وئې ویل: باید دغسی یوه ښکلی نجلۍ ومومم او د (....) ځای د پاره ئې په جاسوسی ولېږمه.

«مصری» ولیده او چی سر ئې وښوراوه وئې ویل: زه هم د یونانی په عقیده یم.

«هندی» ته د مجسمی له ښکلیتوب څخه ژړا ورغله او وئې ویل: تر اوسه ئې لا د (بېګانه) یوغ په سپینه غاړه کی ندی لوېدلی چی رنګ ئې ژړ سی.

د «ایرانی» په حلق کی ناړی وچی سوې وئې ویل: که ژوندۍ او بی مېړه وای ما حتماً د ځان د پاره غوښته.

«امریکائی» لیدلی او داسی ئې وویل: چی د زرؤ ډالرو په اندازه ښکلی او قیمت لرونکی ده.

«ایطالوی» ولیدل او وئې ویل: تر موسولینی ډېره ښایسته ده.

«جاپانی» وویل: که ژوندۍ وای ما به د دې سره واده کړی او هره شپه به می (فدائی سرباز) ترې جوړولای.

«چینائی» وویل: زه باید تریاك وخورم او مجسمی ته نظر واچوم څو ئې خوند واخلم.

«قفقازی» وویل: تر شراب خوړلو وروسته ئې باید ښایسته مخ ښکل سی.

یهودی چی دا ټولی خبری واورېدلی خندا ورغلی وئې ویل: پدغه ښوروائې پوری کوی ځکه ستاسو دا ټولی خبری مفتی وې؛ دا مجسمه به نه د چا د جاسوسۍ په درد وخوری او نه د چا د عشق بازۍ. زه به ئې سر تر نو که په غوړو

ښه غوړه کړم او دوه، درې کاله به ئې ترخاورو لاندی وساتم، وروسته به ئې د عتیقه آثارو او تاریخی شیانو له رقمه په بازار کی په ښه او ګران قیمت خرڅه کړم.

✿❀✿

بورانی بانجان

یو سړی «معبر» یعنی د خوب تعبیر کوونکی ته ورغلی او ورته وئې ویل: چی برایی مـی یو عجب خوب لیدلی دی.

معبر ورته وویل: چی خیر دی وی؛ څنګه دی ولید؟

سړی ورته وویل: خوب می لید چی د اوښ له پوچو څخه بورانی بانجان پخوم.

معبر ورته وویل: یوه پیسه راکه چی د خوب تعبیر دی وکړم.

سړی ورته وویل: که مایوه پیسه درلودلای خو په هغه به می بانجان رانیولی بورانی به می پاخه کړی وای، نو د اوښ له پوچو څخه می څه غوښته؟.

✿❀✿

چالاکی

د یوې معتبری کورنۍ یوې ښځی چی هره ورځ به ئې پر آس یوې او بلی خواته چکر واهه؛ یو یو نوکر به هم په پسی ؤ. یوه ورځ دا ښځه چی پر آس سپره او نېکر ئې هم نه ؤ اغوستی پر مځکه غوزاره شوې ځان ئې ښکاره شو. دا ښځه چی د غوزارېدو له امله ډېره خجله وه، ژر له ځایه پورته پر آس وغورځېده او چی آس ته ئې ښه قمچینه ورکړه نوکر تـه ئې وویل: آیـا زما چالاکی دی ولیده؟

نوکر جواب ورکړ چی هو! ښه می ولیده لېکن پدې نه پوهېدم چی چالاکی نومېده.

د سقراط د مرګ حکم

کله چی سقراط ته وویل شوه چی یونانیانو ستا د مرګ حکم کړیدی؛ نو سقراط ورته وویل: چی طبیعت د یونانیانو د مرګ حکم هم کړیدی.

بیا ورته وویل شوه: کولای شی چی وتښتی او له مرګه خلاص سی.

سقراط وویل: آیا په نړۍ کی داسی ځای پیدا کېدلای سی چی هلیه مرګ نه وی؟،

✿❀✿

ډېر ښه یا داښتونه

یو سړی چی په سفر تۍ، نو زیاترو دوستانو ئې دیو، یو شی راوړلو فرمایش هم ورکړ، او ددې د پاره چی هېر ئې نه سی، یوه، یو د خالصه نوشته ئې هم ورکړه، خو فقط یو نفر د خپل یاد داښت سره څه اندازه پیسی هم ورکړلی.

کله چی هغه سړی له سفر څخه بیرته راغی نو دوستانو ئې د خپلو سفارشی شیانو غوښتنه وکړه؛ مسافر ډېره، ډېره معافی غوښتی او ورته وئې ویل:

یوه ورځ چی هوا ډېره ښه وه په دریاب کی د کښتۍ پر سر ناست او هغه ستاسو د شیانو یاد-داښتونه می مخی ته غوړولی او یو، یو می تر نظر تېراوه، ناڅاپه یو تند باد راالوتی، هغه ټول یاداښتونه ئې دریاب ته واچول. خو فقط د یوه یاداښت چی پیسی ئې پر سر پرتی وی او باد هم ونه کړای سوای چی دریاب ته ئې وغورځوی شیان می رانیولی او دادی رامی وړل.

(۲)

د عزیز احمد [ترقی] ژباړه

جیوردانو برونو

دامشهوره عالم پدې خائنانه توطئه چې دده دپاره تړل سوې وه چې دده راتګ و ایطالیا ته ؤ نیوهېدی چې دعقیدو دپلټنو دستګاه یعنی وحشتناکه محکمی کار دی. دا وحشتناکه محکمه هغه وخت په ایطالیا او اسپانیا کی دهغو کسانو دتعقیب دپاره وه چې دوی به دکلیسا پرضد کارونه کول، که څه هم هغه به حقیقت اورښتیا کارؤ، بیاهم ددوی له خوا نیول کېدی او په مختلفو

مختلفو جزاؤ محکوم کیدی لکه جیوردانو چې یو مشهور او حقیقت ویونکی عالم ؤ ددوی له خواڅخه په ډېرو سختو جزاؤ محکوم شو، او دعقیدو دپلټنو دستګاه نه یوازی برونو په سختو جزاؤ محکوم کړی ؤ بلکی په سوو اوزرو کسان ئې نور په اعدام او نورو سختو جزاؤ محکوم کړی وه، چې برونو هم ددغو قربانی سوو دډلی څخه ؤ.

برونو د ونیز و ښار ته چې په ایطالیا کی واقع دی ولاړ او موسینګو ته ئې په تعلیم اودرس ورکولو شروع وکړه، اودده شاګرد یعنی موسینګو وده ته قسم ورکړی ؤ چې هر وخت ته لدې ښاره تللی اول وماته راشه اوزما سره دخدای په امانی وکړه.

پدغو پلمو او توطئو سره موسینګو پدې بېره کی ؤ که مبادا برونو دعقیدو دپلټنو دستګاه خائنانه نقشو او توطئو څخه خبر شی اولکه په ځوانی کی چې تښتېدی ونه تښتی امادې مشهوره ستوری پېژندونکی چې قسم اخیستی ؤ نو مجبور ؤ دمخه تردې چې د ونیز د ښاره څخه حرکت وکړی وده ته راشی. اوده کولای سوای چې برونو ددې ظالمانو په لاس ورنکړی.

موسینګو پسله څو میاشتو تعلیمه څخه وویل چې برونو زما په تعلیم کی ناراستی کوی او صحیح تعلیم نه راکوی نه غواړی چې خپلی ټولی لیکنی او خبرونه ماته راکړی اویائې راوښیی ددې خبرو په جواب کی برونو ډېر پرېشانه شو او خپله آمادګی ئې دتګ، اود ونیز دښار دپرېښولو دپاره ښکاره کړه، او موسینګو دده پرضد دعقیدو دپلټنو ومحکمې ته خبر ورکړ.

د ۱۵۹۳ کال د مې د میاشتی په ۲۴ نېټه دا مشهوره عالم ونیول شو او ۸ کاله موده ئې په یوه وحشتناکه او خطرناکه بندیخانه کی تېر کړل.

په هغه بندیخانه کی چې ئې برونو بندی کړی ؤ د خونو بام ئې سرلوڅه ؤ. او دوی به ئې په سختو ګرمیو اوژمی به ئې په ډېرو سختو یخو او لندو ځایو کی به تېراوه.

دیوه بندی ژوند پدې بندیخانه کی د ډېر تکلیف اود مرګه سره تړلی ؤ. اما ولی دې ظالمانو او ستمګرانو برونو ۸ کاله په بندیخانه کی اچولی ؤ، ځکه چې دوی امیدواره وه چې دامشهوره ستوری پېژندونکی پخپله د خپلو تعلیماتو دپاره دلاس لاله ورکړ ځوی اوداودوی

ته یوه لویه کامیابی وه .
برونو په ټوله اروپا کی مشهور او خلګو دده احترام کاوه او دغه رنګه به ئی اعلام وکړ چی برونو پخپلو نظریاتو کی تغیر راوستلی دی او خطا لار ئی پری ایښی ده . ډېرو خلکو دوباره د کلیسا په نکلو او قصو چی د نړۍ د پیدا ښت په باره کی وی باور کاوه، لېکن برونو ډېر یو دلاوره سړی ؤ او پر خپله عقیده باندی ولاړ ؤ اما د کلیسا د تهدیداتو او شکنجو نه وکړای سوای چی دده روحیه ورمړه او ماته کړی او په ډېره سرسختی سره به ئی د خپلو تعلیمو د پاره صحیحه دلیلونه پیدا کول .

آخر پای هم د عقیدو د پلټنو محکمی دی په اعدام محکوم کړ . هغه وخت چی برونو د محکمی دا رایه واورېده په آرام ږغ سره ئی وقاضیانو ته وویل :
«ستاسو ددې نظریی په اعلانېدو کی دا ماته ښکاره سوه چی ترتاسو اوس هم زه د مهربان خدای [ج] څخه ډېر بېرېږم» .
او د عقیدو د پلټنو محکمې خپل حکمونه په لاندی کلمو سره بیان کوی :
«مقدسه کلیسا غواړی چی دا ګناهکار ته بېله وینو تویولو جزا ورکړل شی» .

اما دغه حکم یو ډېر وحشتناکه حکم د اعدام د حکمو څخه ؤ دا حکم پدې معنی سره ؤ چی یعنی قربانی کېدونکی دی باید ژوندی په اور کی وسوځل شی .

اما عاقبت ئی هم برونو د ۱۶۰۰ کال د فروری د میاشتی په ۱۷ نېټه ئی د اور په کوټه کی ژوندی وسوځی، او دی ئی په ډېر جلال او د بد به د اعدام و میدان ته بوتی او دده د مخه به ئی د وینو په رنګ سره بیرغونه او د ټولو کلیساؤ په ناقوسو کی ناري او ږغونه وه په سوو کشیشانو او مذهبی لارښوونکو پخپلو رسمی لباسو کی د ښخولو ترانی ویلی ، او پدې بېګناه محکوم ئی ژړه جامه چی د هغه پر مخ ئی د شیطانانو شکلونه په تور رنګ کښلی وه اغوستی وه او بوقی جګه خولی چی د هغه پر مخ دیوه داسی سړی تصویر ؤ چی د اور د لمبو په منځ کی ئی پېچ او تاب خوړی کښلی ؤ دده پر سر کړی وه . په پښو او لاسو کی ئی زنځیران او په غاړه کی ئی د اوسپنی حلقه وراچولی وه چی دده دلاری تلل په تکلیف شی . دا ظالمان ددې څخه بېرېدل چی مبادا برونو د ژوند په آخر کی دا خپلی حقیقی نظریی وخلګو ته ووایی نو ئی ژبه ورپرې کړی وه چی نه وکړای شی خبری وکړی .

د برونو وروسته او شاوخوا ټوله کشیشانو د حکومت د حکم فرمایانو او اشرافو په مجللو جامو کی حرکت کاوه .

د روم د ښار په زرو، زرو خلګ د اعدام په میدان کی چارچاپېر سره راټول سوی وه او هغه سړکونه چی ئی محکوم د هغو څخه تېر اوه او د اعدام و میدان ته ئی بېوی د خلګو څخه به ډک وه او خلګو ودې ته دیوه نمایش په ډول او په ډېره مینه سره کتل . اما لږ وکسانو وجود درلودی چی ددې وحشیانه او خطرناکه رفتار سره چی ددې دلاوره او مشهوره عالم سره کېدی ډېر متنفر او ناآرامه وه . د مخه تر دې چی پر برونو د اعدام حکم تطبیق کی یوار ئی بیا ده ته فرصت ورکړ چی د خپلی عقیدې څخه وګرزی اما دې

۲۵ مخ دی و کتل شی

ژباړونکی غفور [حمیدی]

علت او معلول

له حکیم بزرګمهر څخه ئې پوښتنه وکړه چی: «کارونه په کوښښ سره دی او که په قضا سره دی».

ده جواب ورکړ: «کوښښ دقضا سبب دی».

بزرګمهر پدې لنډه او د معناډ که جمله کی موږ دژوند له لوی قانون څخه چی دعلیت قانون دی خبروی.

د علیت قانون و موږ ته وایی چی: هر علت معلول لری او د معلول پېشبینی هم کیږی، پدې معنا چی

له هغو کارو څخه چی نن ئې موږ کوو دراتلونکو حادثو هم یو څه معلومولای سو او دخپل راتلونکی سرنوشت

لږ درك پیدا کوو ځکه د علت له مخی معلول معلومیږی. مثلا یوزده کونکی چی نن تکړه ځوان دی خپل

وخت خوشی په شرابخوری او قمار بازی تېروی دده د ننني ورځی له حال څخه دا لږ ډېر معلومیږی چی دده راتلونکی وخت به خراب وی.

معلول تل دعلت پیروی کوی د پرون ورځی کارونه د نن ورځی د کارو پیدا کوونکی دی او زموږ دسبا کارونه زموږ د نن ورځی

له کارو څخه پیدا سویدی.

د نن ورځی هر کار، فکر او احساس زموږ دسبا په کارو او

فکرو کی منعکس کیږی که نن خپل ځان د ناوړو پېښو دجګړې لپاره تکړه کوو سبا ئې ښه دفعه کولای سو

که چیری خارجی کارونه په موږ کی تاثیرو کی، هغه تاوان چی له دغو کارو څخه وموږ ته را پېښ شی دهغو

سره زموږ د مخامخ کېدو په ډول پوری اړه لری.

د هرغم په ایسته کولو کی بری یا ماته موندل زموږ په فکر او کار اړه لری.

ځکه کله چی ماته او ناکامی د ناتوانو روحو دپاره وژونکی زهر دی د طاقتمن روح دپاره د بری موندلو لومړی ځینه ده.

طاقتمن سړی د هری ماتی سره د بری موندلو په یوه اسرار پوهیږی او په حقیقت کی یو درس زده کوی

د ۲٤ مخ پاته

مشهوره اولوی عالم په ډېر تحقیر سره ددوی دا پېشنهاد ور رد کړ او په ټینګو او محکموګامو سره د تیرو وخواته ور رهی شو هغه

وخت چی ئې د اور دلمبو په منځ کی ودراوه حتی دژوندتر آخرنی لحظی پوری ئې د سینی څه هیڅ ږغ او فریاد خارج نه شو.

دې لوی عالم د اور دلوی کوټی په منځکی خپل ځان وسپاره اما د کلیسا لارښوونکو نشوای کولای چی دده دلیکنی او نظریو جلوګیری وکړی.

په ۱۸۸۹ کال کی دجیوردانو برونو مجسمه دروم دښار په هغه میدان کی کوم چی دی هورې مړ سوی وو، و درول شوه.

«پای»

او پدې ډول پر خپلو بدبختیو باندی خاندی او په پای کی کامیابه کیږی .

پطر کبیر دا لارنیولی او دونی ئې دهغوماتو په برابر کی چی ددوهم شارل له لاسه ور پیښی سوی وی

ځان ټینګ کړ ترڅو چی ئې بری وموند او پدې ډول ئې خپل قول پر ځای کړ چی ویلی ئې وه (دونه ماتی وړم

څودماتی ور کولولار زده کړم) .

پیښی تل زموږ په ګټه نه وی او ډیر طاقتمن خلګ دناوړو پیښو سره مخامخ کیږی ، خو ناتوانه خلګ

هغه «قسمت» بولی او په ډیره خواری ور تسلیمیږی .

دتقدیر فلسفه دضعیفو وګړو فلسفه ده (قسمت) د ناتوانو دپاره تیښته ده کله چی دونه همت په ځان کی

نه وینی چی د مشکلاتو سره دی وجنګیږی .

که نه وی نو داخوښکار . خبره ده چی بخت دهغه چا خوښونکی دی چی د کار او جګړې طرفدار وی .

انسان دخپلو دماغی قوو دفلج کولو دپاره ډول ډول وسیلی جوړی کړیدی .

یو له دغو وسیلو څخه تاریاك او نور مسکرات . بله ئې ډول ، ډول اوهام او

دریم ئې دغه توهم دی چی قسمت اوسر نوشت نومیږی .

هغه څوك چی د تقدیر په توهم اخته وی داسی دی

لکه خلګ چی په خوب کی تګ کوی . دوی دخپل ځان هیڅ اختیار نه لری .

پیښی دوی پرمخ بیائی دوی هیڅکله د مشکلاتو د سمولو دپاره له خپل مغز څخه کار نه اخلی .

دوی بخت یو معلومه قوه یا یوعلت چی د کشفیدو نه وی یا یوه پیښه چی د محاسبی وړ نه وی بولی .

خپل بحث د « اسپور- جئون» په پر مغزه خبرو تما موو :

« ما هیڅکله پر بخت باندی اعتقاد نه دی کړی

بیله دې چی خیال کوم بخت سړی تر خندق تیروی پدې

شرط چی هغه سړی به بنه کوی او په غاب کی ئې یوه ټوټه غوښه ورایږدی پدې

شرط چی هغه به د خپلی باغچی او پسه بنه پالنه کوی»

« بخت ډیرو هغو خلګو ته مخ ورا ړوی چی ترشا پسی ځی .

زما په خیال بخت د هرچا د کور دروازې ته ورځی که کار او کوښښ دروازه نه کړه ور- خلاصه بیرته ځی او بیا نه ورته راګرزی» .

داریانو خبری

بنه میراث :

ډیر بنه شی چی پلرونه ئې خپلو زامنو ته په میراث پر ږدی بنه تربیت او روزنه ده .

[سیسرون]

✡✡

اخلاق :

اخلاق دنړی دلویو محرکه قواؤ څخه دی، اودخپلو تظاهراتو په کمال کی انسانی طبیعت پخپل ډیرلوړ او عالی شکل مجسم کوی . [اسمایلز]

✡✡

بنه اوسه :

داسی و اوسه او ځان داسی کړه چی و هرچاته وویلای شی « لکه زه ځان داسی کړه» .

[کانت]

✡✡

داخلاقو خاوندان :

د اخلاقو ښښتنان د خپلی ټولنی روح دی . [امرسون]

په آینده کی به انسان غاښونه نه لری

زمانی، زمانی دمخه او ډېری زمانی لادمخه چی بیزوګانو انسان پخپله کوډله کی بندی کړی ؤ اودخپلو چالو په پرده کی بی دکوډلی دروازه داسی ورته تړلی وه چی ددوی په ګمان به نو موړی انسان هیڅکله نه ددوی له ډلی څخه او نه ددوی له دې مجدوده کوره څخه راووځی اما انسان دخپلومغزو دډېروالی او پراخوالی په نسبت ددوی د چمو پرده داسی ورځیری کړه چی بیزوګانی بیچاره ګانی په ځانو هیڅ ونه پوهېدلی اوځیرك انسان داسی له دغی کوډلی څخه چپ اوخپ راووت چی نه ئې دځنځیر شرنګی چاواورېدی او نه ئې دپښو کښکی دچا تر غوږو سو، نو دهغه وخته راپدې خـوا چی انسان د بیزوګانو له کوره راووت ګواکی له هغه وخته څخه د حیوانیت له ساحی څخه د انسانیت ومیدان ته راپوری وتی.

انسانان دخپل تاریخ په اولـو مخو کی داسی بیان ورکـوی چی مـوږ پخپلو ابتدائی مرحلو کی دانی مپوې خوړلی کله، کله د بعضو حیوانـاتو په غوښه مو هم ګذاره کوله یعنی هغه وخت چی به وږی سوو نو به مـو هغه ځنګلی او بیابانی حیوانات او مرغان چی به زموږ په وس وه نیوله اوغوښی به مو په غاښو اوچمبو څیرلی نو بیا به مو هغه غوښی اومی خیشتې خوړلی اوځانونه به مو پدغه لار سره مړول.

انسانان دخپل تاریخ په بل ځای کی وایی: هغه وخت چی زموږ نیکه ګـانو غوښی اومی خیشتی اوبی اوره خوړلی، علت ئې داوو چی دوی د حیوانیت و کورته نژدې او مغزویی انکشاف نه ؤ کړی، اما اوس چی زموږ ذهنونه تر دوی په ډېرو شیانو پوهیږی پدې هم پوهیږو چی باید غوښی تر ښکار وروسته پر اور باندی وګړول شی اوبیائې په خپړو او غاښو څیری اووئې خورو.

دلته دا بـاید ووایو چی اوس زمـوږ غـاښونـه نسبت زمـوږ د نیکه ګـانو غاښو ته هم هیڅ او هم کوچنی سوی دی او ددوی غاښونه خورا قوی، تېز اواوږده وه څنګه چی دوی هر څه په څیرله او پرې کوله، دزامی غاښونه ئې چی د کوټلو وظیفه لری ډېر په قوت کی وه اوهر څه ئې په میده کولای سوای.

اما موږ هغو ته لکه دوی چی کارځینی اخستی میده کول او کوپته کول نشو په کولای.

انسانـانو پخپل بشری تاریخ کی خـوراکی ډېر ډېر بیابانونه نورهم کښلی دی، اما موږ ئې د نوموړی تـاریخ هغه کیفیت چی په آخری پـاڼه کی د آخری حاشیی پـه وروستی څنډه کی کښل سویـدی راوړو انسانان پخپل تـاریخ کی وایی چی زموږ مـادی او معنوی کیلیت زموږ د نیکه ګانو په شان نه دی مثلا ددوی هغو ذهنو او مغزو انکشاف نه ؤ کړی یو ئې تندی او د جمجمی منحنی حصه د شا پرخوا څرمه وه.

برعکس ئې چې خورا-
کونه وحشیانه او د حیوا-
ناتو په ډوزوه نو ئې خولی
او د خولی شاوخوا برخو

پوره وده کړی او اور بوزی
ئې د مخ پر خوا راوتلی وه.

اوس وینو چې زموږ
مغزو انکشاف کړی او
وحشیانه خورك مو پری
ایښی دی ځکه مو تندی

راوتلی او وربوزونه مو
ننوتلی دی. دوی چې به
حیوانات ښکار کړه بیا به ئې
په څپړو څیرل او وروسته

ئې دیو لمبی پر سر هغه
غوښی کړ ولی نو بیا پخپلو
تېرو غاښو او نېښو ئې هغه
څیرلی او خوړلی.

دلوړو خبرو پر بنا مغوی
په خپلو غاښو شیان پر ېکول
څیرل، ماتول او میده کول
ځکه ئې غاښونه تر ننني انسا-

نانو خوراغټ، تېز او اوږده
وه اما اوس چې موږ خپل
ټول انتظام د برق په آلاتو
او داټوم په انرژی دی نو مو

غذا هم په نوموړو طاقتو
پخیږی او د خورك په وخت
کی ئې فقط دیوې کاچوغی
او پنجی سره خولی ته یو سو
هورې هم چندانی د غاښو
زور نه باندی تېریږی فقط

د خولی د ناړو په ذریعه
هغه نرم او معدې ته ځی
ځکه مونو غاښونه خورا آرام
او د انکشافه ولوېده او وینو

ئې چې زمانه پر زمانه زموږ
غاښونه واړه او پڅیږی.

پسله څه زمانی څخه چې
د خورك موډ له منځه ولاړ
شی او د حفظ الصحی د مرا-
عاتو سره سم به د ضروری
ویټامینو څخه یو ډول ګولی

جوړی شی او هغه یا د پلمېټ
په شکل زبېښو او یا به ئې
ژوندی تېروو. ځکه چې
یدغه مرحله کی غاښونه په

کار نه لویږی نو د «لامارك»
د قانونه سره سم چې وایی د
استعمال هغه عضوه قوې
اما که مستعمله نشی نو هغه

عضوه له منځه څخه وځی
پسله څه زمانو څخه غاښونه
له منځه څخه ځی او بیا به نو
انسانان په آینده کی غاښونه
نه لری. «ټاکنه»

د [غرزی] ژباړه «له هری خوا»

هغه وړانګې چې فلز په بخار

اړوی

دلندن د فزیك د ټولنی په نندارتون کی یوه ټوټه قهوه ئی رنګه مکعب شکله د ننداري د پاره ایښوول سوی وه چې «مادون قرمز» بیخی قوی وړانګی ئې تولیدولای سوای.

دا د «لاستر» یو ډول انقلاب دی چې لومړی وار په امریکا کی کشف سو او اوس ئې د هرست د الکترونیك پلټنو د سرویس پوهان د مشابه ډول په جوړولو بریالی سویدی.

دا نوی ډول لاستر یو وړوکی مکعب دی چې د «ګالیون ارسینیك» پنامه د یوه فلز له ترکیب څخه جوړ شویدی.

د برېنا د جریان په برقرارولو سره د دې جعبی (کوټی) له داخل څخه مادون قرمز وړانګی را پیدا کیږی. دې نکتی د پوهانو په منځ کی ډېر هیجان را پیدا کړیدی ځکه تر مخنیو لاستر و ډېر الکتریکی شارژ ته د کار د شروع کولو د پاره اړی درلوده.

د دې سره چې تر اوسه ئې د لومړی کشف تر دوو کلو ډېر وخت نه کیږی، په امریکا کی په ملیونو ډالرونه د دې لاستر په شاوخوا کی د څېړنی د پاره په نظر کی نیول سوی دی او د خرڅلاو د چارو متخصیصینو ئې څرګنده کړېده چې تر ۱۹۷۰ کال پوری به هر کال

پاته د پښتنی په ۳ مخ کی

د کمال تصویر

کله چی آفرینش نوی شی او ستوری خپلی لومړی وړانګی خپرې کړې، نور وحانی ستایونکی په آسمان کی سره راغونډ شی او په ګډه دا سندری وایی:

« واه، واه، د کمال تصویر؛ واه، واه غیر ناقص مسرت » ناڅاپه له دوی څخه یوه ناري کړه: « دا معلومه ده چی د رڼا د ځنځیر په کوم ځای کی شکست سته او له ستورو څخه کوم ستوری ورک سویدی ».

د بربط زرین تار له ځایه راکښته شی، سندری بدی شی او ټول وارخطا راپاڅی او ناري کړې « هو، هو! هغه ورک شوی ستوری ډېر ښه ستوری ؤ او د ټولو آسمانو ښایست هم په ده وو ».

له هغی ورځی راهیسی چی په هغه ستوری پسی تلاښ جاری دی یو داسی زوږ او شور له دې ځایه بیا تر هغه ځایه پورته دی چی وایی:

« دنیا په هغه ستوری کی خپل مسرت ورک کړیدی ».

یوازی د شپی د توری تیارې په خاموشۍ کی ستوری موسکیږی او یو دبل په غوږ کی وایی چی: « دا تلاښ خوشی دی په هر ځای کی مبقطع تکمیل شته ». «ټاګور»

د ۲۸ مخ پاته

۴۵ ملیون لیره ستر لنګه له دې لاستر څخه خرڅ شی.

د دې څواړخېز دې ډول کوښښ دلیل دادی چی نوی لاستر د ډېرو مهمو او بېشمارو مصارفو لرونکی دی.

له دې لاستر څخه حاصلی سوی وړانګی کولای شی چی ډېر سخت فلزونه په بخار واړوی او دا خاصیت ئې همدا اوس تر ازمویښتو بریالی راوتلی دی.

د نوی لاستر څخه په شیمیائی فعل او انفعالو کی او په جراحی عملیاتو کی هم ډېری ګټی اخستل کیدی شی خو ممکنه ده چی د مصرف مهم امکان ئې د ارتباط په څانګه کی وی.

همدا اوس د مصنوعی سیوږمیو د پاره د لاستر د رادار د جوړولو نقشی ترکتنی لاندی دی.

د لاستر یوه وړانګه په ملیونو تلیفونی مکالمی مخابره کولای شی ځکه د لاستر وړانګی لکه راډیوئی څپی تر کنټرول لاندی راوستل کېدلای شی.

کوم څه چی پورته اشاره ورته وسوه د قوی لاستر د وړانګو په کار کی چی د (ګالیون ارسینیک) له کوټی څخه راوزی کېدلای شی ځکه د الکتریسته په تغیر سره له نوی لاستر څخه حاصلی سوی وړانګی هر ډول چی ئې زړه وغواړی تغیر کولای شی.

KANDAHAR

MONTHLY MAGAZINE

OFFICE:-

PRESS DEPARTMENT

KANDAHAR, AFGHANISTAN

EDITOR: ZALMAI 'BARAK'

(MAY) 1968

GOVERNMENT PRESS

مؤسس: محمدولی [زلمی]

د امتیاز خاوند: د طلوع افغان نشراتی مؤسسه

مسئول مدیر: زلمی (بارک)

کندهار

میاشتنی خپرونه

تاریخی، اجتماعی، علمی، ادبی

اداره: د شهیدانو واټ

د تاسیس کال ۱۳۳۹

د ۹ کال دوهمه ګڼه پرله پسې ګڼه ۹۲

د ۱۳۴۷ لمریز کال د ثور میاشت

کالنی بیه

په کندهار کی [۲۸] افغانی

دهیواد په داخل کی [۳۲] «

په دباندنیو هیوادو کی یوډالر

د کندهار دولتی مطبعه